دعامي روغتيا وزارت

# روغتيا اوونیزه

## پرلیکه خپرونه

لومړی پړاو - شلمه ګڼه

۱۴۴۷/۰۷/۲۰

- د روغتیایي وضعیت ارزونې په موخه پروان ولایت ته د عامې روغتیا وزیر سفر!
- د عامې روغتیا وزارت د رهبری بورډ د ۲۱غونډې تر سره کېدل!
- د خوړو نړېوال پروګرام له عمومي رئیس سره د عامې روغتیا وزیر ناسته!
- خصوصي روغتیایي سکتور سره د نظارت د پایلو شریکولو ناسته!
- د څېړنې مېتودولوژی اوونیز کورس لومړی دورې پیل!

دویاندویې اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست





## Meeting of the Minister of Public Health with Parwan Provincial Officials

Mawlawi Noor Jalal "Jalali," Minister of Public Health of the IEA, met with Mohammad Idriss Anwari, Governor of Parwan, and Dr. Niaz Mohammad Mukhlis, Director of Public Health, during his official visit to the province.
The Minister, accompanied by the Governor, visited the remaining construction work of the 200-bed Jangal Bagh Hospital and the 100-bed Specialized Hospital in Charikar.
He inspected various hospital departments, inquired about patients' conditions, and instructed officials to address their issues.
Provincial health officials briefed the Minister on the status of health services and shared proposals to address challenges.

The Minister assured them that their concerns would be addressed and steps would be taken to improve health services.

## د ۱.۱.۱ د عامې روغتیا وزیر ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د پروان له والي او د عامې روغتیا رئیس سره لیدنه ترسره او د وراندې کېدونکو روغتیایي خدمتونو له بهیر څخه یې څارنه وکړه

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي او مل پلاوي پروان ولایت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د دې ولایت له والي ښاغلي محمد ادریس انوري او د عامې روغتیا رئیس ډاکټر نیازمحمد مخلص سره لیدنه ترسره او په یو شمېر مهمو روغتیایي موضوعاتو یې خبرې وکړې.
دغه راز، د عامې روغتیا ښاغلي وزیر او مل پلاوي، چې د پروان والي یې هم ملتیا کوله، د جنګل باغ د 200 بستریز روغتون او د چاریکار ښار 100 بستریز تخصصي روغتون د پاتې رغنیزو چارو له بهیر څخه لیدنه وکړه.
ښاغلي وزیر د یادو روغتونونو له ټولو روغتیایي څانګو څخه لیدنه وکړه، د ناروغانو احوال یې واخیست او د شته ستونزو د حل په موخه یې اړوندو مسؤلینو ته لازمې لارښوونې وکړې.
د یادې لیدنې په دوام د پروان ولایت روغتیایي مسؤلینو په تفصیلي ډول د وړاندې کېدونکو روغتیایي خدمتونو وضعیت تشریح کړ او د روغتیایي خدمتونو د لا ښه والي او شته ستونزو د حل په موخه یې له ښاغلي وزیر سره خپل وړاندیزونه شریک کړل.



## Central Database System of the Directorate General of Postgraduate Medical Specialisation Program Officially Launched in Central Specialized Hospitals

The Directorate General of Specialization has launched the practical implementation and use of its central database system in central specialized hospitals. A technical team from the Database Directorate is providing hands-on training to enrolled doctors and creating individual user accounts to ensure standardized system use.

The system has been fully implemented at Ibn-e-Sina Emergency Specialized Hospital, Wazir Mohammad Akbar Khan Hospital, and Indira Gandhi Children's Hospital, where doctors are now actively using it.

Training is currently ongoing at Ataturk Children's Hospital, and the system will be expanded to all specialized hospitals in the capital and provinces, as well as to affiliated specialization centers, including private, security, and military institutions.

## د اکمال تخصص لوی ریاست د مرکزي ډیټابېس سیستم تطبیق او کارونه په مرکزي تخصصي روغتونونو کې په عملي ډول پیل شوه

د اکمال تخصص لوی ریاست د ډیټابېس آمریت تخنیکي ټیم موظف ګرځول شوی؛ چې د تخصص پروګرام ټولو شاملو ډاکترانو ته د یاد مرکزي ډیټابېس سیستم د کارولو طریقه په عملي ډول وروښيي او هر ګډونوال ته جلا (User)حساب جوړ کړي، تر څو وکولای شي له سیستم څخه په سمه او معیاري توګه کار واخلي.

یاده پروسه د عاجل ابن سینا تخصصي روغتون، وزیر محمد اکبرخان روغتون او د اندراګاندي د ماشومانو درملني روغتون کې په بشپړ ډول تطبیق شوې او دا مهال ډاکتران له یاد سیستم څخه په عملي توګه ګټه اخلي.

همدارنګه، د یاد سیستم اړوند عملي روزنه د تخنیکي ټیم له لوري د اتاترک د ماشومانو درملني روغتون کې هم جریان لري او ټاکل شوې ده، چې دغه پروګرام به د مرکز او ولایتونو په ټولو تخصصي روغتونونو او همدارنګه متمم تخصصي مرکزونو (خصوصي، امنیتي او نظامي) کې هم پلی شي



## جوزجان ولایت کې 2.8 ټنه له نېټې تېر خوراکي توکي او درمل له منځه یوړل شول

## ټُن مواد غذایی و ادویه جات در ولایت جوزجان 2،8 حریق گردید

د جوزجان ولایت د عامې روغتیا ریاست د څارنې ټیمونو د روان کال د درېیمې ربعې په ترڅ کې د دغه ولایت په مردیان ولسوالۍ کې د ټاکل شوې کمېټې په مرسته 2.8 ټنه له نېټې تېر خوراکي توکي او درمل راټول کړل، چې ارزښت یې نږدې 500 زره افغانۍ ته رسېږي او د یادې کمېټې د غړو په شتون کې له منځه یوړل شول.
د جوزجان ولایت د عامې روغتیا رئیس، قاري سید ذبیح الله حسیني په مردیان ولسوالۍ کې د ټاکل شوې کمېټې له فعالیتونو څخه قدرداني څرګنده او زیاته یې کړه، چې د روغتیا سکتور په برخه کې به د ا.ا لومړیتوبونه په عملي ډول پلي کړي.

تیم های نظارت ریاست صحت‌عامه ولایت جوزجان، در ربع سوم سال جاری در ولسوالی مردیان این ولایت از طریق کمیته تعیین شده حدود 2،8 تن مواد غذایی و ادویه جات تاریخ گذشته را که قیمت آن حدود 500 هزار افغانی می شود جمع آوری و در حضور داشت هیآت متذکره حریق کرد.
قاری سید ذبیح الله "حسینی" رییس صحت‌عامه ولایت جوزجان از فعالیت کمیته موظف در ولسوالی مردیان ابراز قدردانی نموده افزود، که اولویت های امارت اسلامی را در بخش سکتور صحت عملی خواهم کرد.

## Jowzjan Destroys 2.8 Tons of Expired Food Items and Medicines

During the third quarter of this year, monitoring teams from the Jowzjan Provincial Public Health Directorate, in coordination with a designated committee, collected 2.8 tons of expired food items and medicines in Mardyan District. The seized items, valued at nearly 500,000 Afghanis, were destroyed in the presence of committee members.

The Director of Public Health of Jowzjan Province, Qari Sayed Zabihullah Hosseini, praised the committee's efforts in Mardyan District and emphasized that the health sector's priorities will be implemented in practice.



## اتاترک د ماشومانو درملنې او استقلال ملي او تخصصي روغتونونو کې د اکمال تخصص برنامې له بهير څخه نظارت ترسره شو

د اکمال تخصص لوی ریاست د عملیاتي ریاست نظارتي تیم د ترینر متخصصینو او ټریني ډاکترانو د ستونزو او د اکمال تخصص د ترینګ برنامې د تشو یا خالیګاوو په نښه کولو په موخه د اتاترک او استقلال ملي او تخصصي روغتونونو ته په رسمي ډول واستول شو.

یاد تیم چې د څلورو ورځو لپاره یې په دغو روغتونونو کې خپل نظارت ترسره کوي، د اکمال تخصص برنامې د معیاري کولو په تړاو یې د یادو تخصصي روغتونونو د ریاست له رهبری، د ترینګ له مسؤلینو، د دیپارټمنټونو له آمرینو، ټرینر متخصصینو او ټریني ډاکترانو سره غونډه ترسره او د اکمال تخصص برنامې د معیاري کولو او د اکمال تخصص لوی ریاست موخو ته د رسېدو په اړه يې بحث او خبرې تر سره کړې.

همدارنګه، د یاد تیم غړو د لاندې موضوعاتو پر اهمیت، چې په کې

Logbook, bedside teaching, Morning report, Morning visit, Case presentation

شامل دي، ټینګار وکړ؛ څو په یادو برخو کې په هر اړخیزه او معیاري توګه اجراآت ترسره شي.

## از پیشبرد برنامه اکمال تخصص در شفاخانه های تخصصی ملی اطفال اتاترک و استقلال نظارت صورت گرفت

تیم نظارت ریاست عملیاتی ریاست عمومی اکمال تخصص، جهت دریافت مشکلات ترینر متخصصین و داکتران ترینی و خلا های برنامه تریننگ اکمال تخصص به شفاخانه های تخصصی ملی اطفال اتاترک و استقلال رسماً اعزام گردیدند.

این تیم که به مدت چهار ورز نظارت خود را در این شفاخانه‌ها خواهند داشت، در مورد استندرد سازی برنامه اکمال تخصص با رهبری ریاست شفاخانه های تخصصی فوق الذکر، مسوول تریننگ، شف‌های دیپارتمنت، ترینر متخصصین و داکتران ترینی جلسه ای دایر نموده و در مورد معیاری ساختن برنامه اکمال تخصص و رسیدن به اهداف ریاست عمومی اکمال تخصص صحبت نمودند.

همچنان اعضای این تیم به اهمیت موضوعات ذیل از جمله ( تطبیق کریکولوم از قبیل

Logbook، bedside teaching ،Morning report، Morning visit، Case presentation)

تاکید نمودند تا به شکل همه جانبه در این موارد اجراات صورت گیرد.

## A supervision visit was conducted at Ata Turk and Isteqlal National Pediatric Hospitals to advance the specialty training program.

The monitoring team from the Operations Directorate was sent to identify challenges faced by trainers and trainee doctors, and gaps in the training program.

During their four-day visit, the team met with hospital leadership, training supervisors, department heads, trainers, and trainees to discuss standardizing the program and achieving the Directorate's objectives.

The team emphasized implementing key curriculum elements—logbooks, bedside teaching, morning reports, morning rounds, and case presentations—to ensure consistent and comprehensive practice.



## د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزارت د رهبرۍ بورډ یوویشتمه ناسته تر سره شوه

دا ناسته چې د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په مشرۍ، د وزارت د مرستیالانو او مرکزي رئیسانو په شتون کې ترسره شوه، په کې د مؤسسو له لورې د مرستو تر ختمېدو وروسته د بدیلو لارو موندلو، د روغتونونو د لوګوګانو اصلاح او د روغتیا وزارت د لوګو نصبولو، د ټولو ولایتونو د روغتونونو او روغتیایي مرکزونو د خدماتو لپاره د ځانګړي فایل ترتیب او جوړولو، له ناروغانو او مراجعینو سره د لازم چلند او طبي اخلاقو مراعتولو او په دولتي روغتونونو کې د درملو او نورو مصرفي توکو د کمښت ستونزې د حل په اړه بحث او خبرې تر سره شوې.

د عامې روغتیا وزیر، د پورته ذکر شویو موضوعاتو په عملي اجراآتو ټینګار وکړ او لارښوونه یې وکړه، چې ټولې چارې دې په بشپړ شفافیت تر سره او پر ټاکلي وخت او سمه توګه دې ورته رسېدنه وشي.

همدارنګه، ښاغلي وزیر د مؤسسو د مرستو تر ختمېدو وروسته د بدیلو لارو د موندلو او ارزونې په موخه د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ مرستیال په مشرۍ یوه ځانګړې کمېټه وټاکله، څو یادې برخې ته هراړخیزه او لازمه پاملرنه وشي.

دغه راز، په دې ناسته کې د عامې روغتیا وزارت مرستیالانو او مرکزي رئیسانو د چارو د ښه والي په موخه خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړل او ژمنه یې وکړه، چې د شویو پرېکړو برخه کې به لازم اقدامات تر سره کوي.

## بیست‌ویکمین نشست بورد رهبری وزارت صحت‌عامه ا.ا.ا برگزار شد

این نشست تحت رهبری محترم مولوی نور جلال جلالی وزیر صحت عامه، با حضور معینان و رئیسان مرکزی این وزارت برگزار گردید.

در این نشست، در مورد یافتن راه‌های بدیل پس از پایان کمک‌های مؤسسات، اصلاح لوگوهای شفاخانه‌ها و نصب لوگوی وزارت صحت عامه، ترتیب و ایجاد فایل مشخص برای خدمات شفاخانه‌ها و مراکز صحی در تمام ولایات، رعایت برخورد مناسب و اخلاق طبی با بیماران و مراجعین و حل مشکل کمبود ادویه و سایر مواد مصرفی در شفاخانه های دولتی بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

در این نشست، محترم مولوی نور جلال جلالی، بر تطبیق عملی موضوعات یادشده تأکید نموده و هدایت داد که تمام امور با شفافیت کامل انجام شده و در زمان تعیین‌شده به‌گونه درست پیگیری گردد.

همچنان، محترم وزیر صحت‌عامه، به‌منظور یافتن و ارزیابی راه‌های بدیل پس از ختم کمک‌های مؤسسات، یک کمیته ویژه را تحت رهبری معین پالیسی و انکشاف صحت تعیین نمود تا به این بخش به‌گونه همه جانبه و لازم توجه صورت گیرد.

همچنان، معینان و رییسان مرکزی وزارت صحت‌عامه به‌منظور بهبود امور، نظریات و پیشنهادات خویش را شریک نموده و تعهد نمودند که در راستای تطبیق تصمیم‌های اتخاذشده، اقدامات لازم را انجام خواهند داد

## 21st Leadership Board Meeting of the Ministry of Public Health Held

The 21st leadership board meeting of the Ministry of Public Health of the IEA was held under the chairmanship of the Minister of Public Health, Mawlawi Noor Jalal Jalali, with the participation of deputy ministers and central directors of the ministry. During the session, discussions focused on identifying alternative solutions following the cessation of assistance from partner organizations; revising hospital logos, designing and using the Ministry of Public Health logo; preparing and developing a standardized file for hospital and health center services across all provinces; ensuring proper conduct toward patients and clients and adherence to medical ethics; and addressing the challenges related to shortages of medicines and other consumable supplies in public hospitals.

Addressing the meeting, the Minister of Public Health stressed the need for effective implementation, calling for transparency, accuracy, and timely execution of all decisions.

His Excellency Jalali appointed a special committee under the leadership of the Deputy Minister for Health Promotion and Policy to identify and assess alternative solutions following the cessation of assistance from partner organizations, in order to ensure comprehensive and necessary attention to this area.

The meeting concluded with deputy ministers and central directors sharing recommendations and reaffirming their commitment to implement the resolutions aimed at improving overall performance.





## د ښېړني مېتودولوژۍ اوونيز کورس لومړۍ دوره پيل شوه

د عامې روغتيا وزارت د اکمال تخصص لوی رياست او کورنيو چارو وزارت د روغتيايي چارو لوی رياست په ګډه همکارۍ د څېړنې مېتودولوژۍ اوونيز کورس لومړۍ دوره د تخصص بشپړولو پروګرام د استادانو او ټرېني ډاکټرانو لپاره پيل شوه.

ياد کورس د علمي او څېړنيزو مهارتونو د پياوړتيا په موخه طرحه شوی، چې ټول ټال پنځه دورې لري؛ درې دورې د ټرېني ډاکټرانو او دوه دورې د استادانو لپاره ځانګړې شوې دي، چې په هره دوره کې به 30 تنه ټرېني ډاکټران او 16 تنه استادان ګډون کوي.

د کورنيو چارو وزارت لومړي مرستيال، ښاغلي مولوي محمد نبي عمري په خپله وينا کې د پوليسو ملي او تخصصي روغتون د ډاکټرانو له هڅو مننه وکړه او هغوی ته يې د همکارۍ ډاډ ورکړ.

ورته مهال، د عامې روغتيا وزارت د اکمال تخصص لوی رئيس ډاکتر نثار احمد نيازي د تخصص بشپړولو پروګرامونو ته په اشارې وويل، د اکمال تخصص لوی رياست هڅه کوي، چې د څېړنې مېتودولوژۍ کورسونه لا پراخ او معياري کړي؛ تر څو ټرېني ډاکټران او استادان د نړيوالو معيارونو مطابق طبي څېړنې ترسره کړي. دغه راز، نوموړي ګډونوالو ته د هېواد په کچه تخصصي روغتونونو کې د تخصصي پروګرامونو اړوندمعلومات وړاندې کړل.

همدارنګه، د کورنيو چارو وزارت د روغتيايي چارو لوی رئيس مولوي صديق الله بدر د معياري زده کړو پر ارزښت ټينګار وکړ او د ډاکټرانو هڅې يې وستايلې.

تمه ده، چې د ياد کورس له لارې به د ګډونوالو څېړنيز مهارتونه پياوړي او هم به د علمي څېړنو کيفيت لوړ شي.

## نخستین دورهٔ کورس هفته‌وار میتودولوژی تحقیق آغاز شد

نخستین دورهٔ کورس هفته‌وار میتودولوژی تحقیق برای استادان و داکتران ترینری پروگرام اکمال تخصص، با همکاری مشترک ریاست عمومی اکمال تخصص وزارت صحت عامه و ریاست عمومی امور صحی وزارت امور داخله آغاز شد.

این کورس با هدف تقویت مهارت‌های علمی و تحقیقاتی طراحی شده و مجموعاً شامل پنج دوره است؛ سه دوره برای داکتران ترینری و دو دوره برای استادان. در هر دوره، 30 تن داکتر ترینری و 16 تن استاد اشتراک می‌کنند.

محترم مولوی محمد نبی عمری، معین اول وزارت امور داخله، در سخنرانی خود از تلاش‌های داکتران شفاخانه ملی و تخصصی پولیس قدردانی کرده و اطمینان همکاری همه‌جانبه داد.

همچنان، داکتر نثار احمد نیازی رئیس عمومی اکمال تخصص وزارت صحت عامه گفت که این ریاست تلاش دارد کورس‌های میتودولوژی تحقیق را بیشتر توسعه داده و معیاری سازد، تا داکتران ترینری و استادان مطابق معیارهای جهانی تحقیقات طبی انجام دهند. وی همچنان معلوماتی در مورد برنامه‌های تخصصی در سطح شفاخانه‌های کشور ارائه کرد.

از سوی‌هم، مولوی صدیق‌الله بدر، رئیس عمومی امور صحی وزارت امور داخله نیز بر اهمیت آموزش‌های معیاری تأکید کرد و از تلاش های داکتران ستایش نمود.

انتظار می‌رود، که با برگزاری این کورس، مهارت‌های تحقیقاتی اشتراک‌کننده‌گان تقویت یافته و کیفیت تحقیقات علمی ارتقا یابد.





## د عامې روغتیا وزارت د څارنې او پلټنې لوی رئیس، ښاغلي ډاکتر عنایت‌الله عنایت، د خپل تخنیکي ټیم په ملتیا د افغاني سرې میاشتې له تخنیکي ټیم سره د ګډې همغږۍ غونډه ترسره کړه

## محترم داکتر عنایت‌الله عنایت رئیس عمومی نظارت و بررسی وزارت صحت‌عامه، در همراهی با تیم تخنیکی‌اش، نشست هماهنگی مشترکی را با تیم تخنیکی جمعیت افغانی هلال احمر برگزار کرد

په دې غونډه کې د افغاني سرې میاشتې د روغتیايي ارقامو د تحلیل ستونزې، د نویو روغتیايي مرکزونو لپاره د کوډ ورکړې اسانتیا، او د ټولنې پر بنسټ د سرویلانس سیستم (Community-Based Surveillance) اړوند موضوعاتو باندې بحث او خبرې تر سره شوې.

دغه راز، دواړو لوریو د متقابلې همکارۍ پر پیاوړتیا ټینګار وکړ او ژمنه یې وکړه، چې د څارنې او ارزونې سیستم د لا اغېزمنتیا لپاره به ګډې هڅې پراخې کړي.

در این نشست، روی چالش‌های تحلیل ارقام صحی جمعیت افغانی هلال احمر، تسهیل در اختصاص کود برای مراکز جدید صحی و موضوعات مربوط به سیستم سرویلانس مبتنی بر جامعه (Community-Based Surveillance)
بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

همچنان، هر دو طرف بر تقویت همکاری‌های متقابل تأکید کرده و تعهد نمودند که تلاش‌های مشترک را برای مؤثریت بیشتر سیستم نظارت و ارزیابی گسترش دهند

## Dr. Enayatullah Enayat, Director General of Monitoring and Inspection, held a coordination meeting with the Afghan Red Crescent technical team.

They discussed problems with health data analysis, coding for new health centers, and the Community-Based Surveillance system.

Both sides agreed to work together to make the monitoring and evaluation system more effective.












## د روغتیايي خدمتونو د ډیجیټل کولو په موخه د همغږۍ غونډه ترسره شوه

## نشست هماهنگی برای دیجیتال‌سازی خدمات صحی برگزار ش

دا غونډه د عامې روغتیا وزارت د معالجوي طب لوی رئیس، ډاکتر وحدت الکوزي تر مشرۍ لاندې د مالیې او مخابراتو وزارتونو د استازو په شتون کې تر سره شوه.
په دې غونډه کې په روغتونونو کې د روغتیايي خدمتونو ډیجیټل کولو، د عوایدو راټولولو او د عامې روغتیا وزارت د اړوندو نورو برخو په اړه بحث او خبرې تر سره شوې.
ډاکتر وحدت الکوزي وویل: (د روغتیايي خدمتونو د لا ښه مدیریت، اسانه لاسرسي او د ناروغانو د معلوماتو د کره ثبت لپاره د روغتونونو ډیجیټل کول یو بنسټیزه اړتیا ده، نوموړي زیاته کړه: د یو شفاف سیستم له لارې د معالجوي خدمتونو کیفیت تضمین کېدای شي، چې دا کار به د ناروغانو د رضایت زیاتوالي سبب هم وګرځي.
په دې غونډه کې د عامې روغتیا وزارت مسؤلینو خپلې تخنیکي او اجرائیوي اړتیاوې د یو پرېزنټېشن له لارې شریکې کړې، چې د مالیې او مخابراتو وزارتونو مسؤلینو په دې برخه کې د همکارۍ ډاډ ورکړ.

نشستی به منظور دیجیتال‌سازی خدمات صحی، تحت رهبری داکتر وحدت الکوزی، رئیس عمومی طب معالجوی وزارت صحت‌عامه، با حضور نماینده‌گان وزارت‌های مالیه و مخابرات برگزار گردید. در این نشست، روی دیجیتال‌سازی خدمات صحی در شفاخانه‌ها، جمع‌آوری عواید و دیگر بخش های مربوط به وزارت صحت‌عامه بحث و تبادل نظر صورت گرفت.
داکتر وحدت الکوزی گفت: «برای مدیریت بهتر خدمات صحی، دسترسی آسان‌تر و ثبت دقیق اطلاعات بیماران، دیجیتالی شدن شفاخانه‌ها یک نیاز اساسی است.» وی افزود که «کیفیت خدمات معالجوی از طریق یک سیستم شفاف تضمین شده می‌تواند و این کار باعث افزایش رضایت بیماران نیز خواهد شد.
در این نشست، مسوولان وزارت صحت‌عامه نیازمندی‌های تخنیکی و اجرایی خود را از طریق یک پرزنتیشن ارائه کرد و مسوولان وزارت‌های مالیه و مخابرات نیز در این موارد اطمینان به همکاری دادند.

## A coordination meeting was held to plan the digitalization of health services.

The meeting was led by Dr. Wahdat Alokozai, Director General of Curative Medicine. Representatives from the Ministry of Finance and the Ministry of Communications also attended.
Participants discussed digitalizing hospital services, collecting revenue, and other related work of the Ministry of Public Health.
Dr. Wahdat Alokozai said digitalization of hospitals is essential for better management, easier access, and accurate patient records. He added that a transparent system will improve service quality and increase patient satisfaction.
Ministry of Public Health officials shared their technical and practical needs in a presentation. Officials from Finance and Communications Ministries promised support for the project.





## د عامې روغتیا وزارت د غونډو په تالار کې د خوراکي توکو، درملو او روغتیايي محصولاتو د قاچاق مخنيوي قانون د لا ښه تطبيق په موخه د همغږۍ درېيمه غونډه ترسره شوه

دا غونډه چې د عامې روغتیا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په مشرۍ ، د خوړو او درملو مرستيال ښاغلي مولوي حمدالله زاهد، د ماليې وزارت، ملي دفاع وزارت، کورنيو چارو وزارت، صنعت او سوداګرۍ وزارت، کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، اطلاعاتو او کلتور وزارت، د چارو اداري لوی رياست، استخباراتو لوی رياست، کابل ښاروالۍ رياست، د معيار او کيفيت ملي اداري او سترې محکمې د استازو په شتون کې ترسره شوه ، د يادو وزارتونو او ملي ادارو له استازو څخه جوړې شوې کمېټې د قاچاق مخنيوي قانون، چې د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله د 24 مې ګڼې فرمان له مخې توشيح شوی، د لا غوره تطبيق په اړه خپل نظرونه او وړانديزونه شريک کړل، تر څو ياد قانون په اغېزمن او شفاف ډول پلې شي.

د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د قاچاق مخنيوي قانون پر جدي او لازم تطبيق ټينګار وکړ او ويې ويل، په سرحدونو کې بايد د ناقانونه درملو او خوړو د واردولو مخه ونيول شي نوموړي همدارنګه د بين الوزارتي کميټې له غړو د هر اړخيزې همکارۍ مننه وکړه او د شته ستونزو د حل په موخه يې د لا همغږۍ او چارو د سرعت غوښتنه وکړه.

## سومین نشست هماهنگی، به هدف تطبیق هر چه بهتر قانون جلوگیری از قاچاق مواد غذایی، ادویه و محصولات صحی در تالار جلسات وزارت صحت‌عامه، برگزار شد

این نشست با حضور محترم مولوی نور جلال جلالی، وزیر صحت‌عامه، محترم مولوی حمدالله زاهد، معین غذا و دوا، نماینده گان وزارت‌های مالیه، دفاع ملی، امور داخله، صنعت و تجارت، زراعت، آبیاری و مالداری، اطلاعات و فرهنگ، اداره امور، ریاست عمومی استخبارات، شاروالی کابل، اداره ملی استندرد و کیفیت و ستره محکمه برگزار گردید.

در این نشست، کمیته‌هایی که از نماینده گان ادارات و وزارت‌خانه‌های یادشده تشکیل شده بودند، نظریات و پیشنهادات‌شان را در رابطه به تطبیق مؤثر و شفاف قانون جلوگیری از قاچاق که بر اساس فرمان شماره 24 مقام محترم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله توشیح گردیده، شریک ساختند.

محترم مولوی نور جلال جلالی، وزیر صحت‌عامه، بر تطبیق جدی و لازم این قانون تأکید نموده گفت: که باید در سرحدات از واردات غیرقانونی ادویه و مواد غذایی جلوگیری صورت گیرد











## د عامې روغتيا وزارت د کارکوونکو چارو لوی رياست له لوري د خوست عامې روغتيا رياست د کارکوونکو چارو مديريت له مرکزي ډيټابيس سيستم سره ونښلول شو

دا اقدام د کارکوونکو چارو لوی رياست د ډيټابيس امريت له لوري د ډيجيټل کولو پروسې د پراختيا په موخه ترسره شو، چې په وسيله به يې د ياد رياست د تشکيل، تعيناتو او اړوندو اسنادو ارزونه او تثبيت د مرکزي سيستم له معيارونو سره سم ترسره کېږي.

همدارنگه، د خوست عامې روغتيا رياست د کارکوونکو چارو مديريت اړوند پرسونل ته د ډيټابيس سيستم عملي روزنه او د کاروني لارې چارې ور وښودل شوې؛ ترڅو د کارکوونکو مقررې، منفکې، استعفاوې او نور اداري بدلونونه په ډيجيټلي ډول ثبت او له مرکز سره شريک کړي.

د ياد سيستم په تطبيق سره به اداري چارې چټکې، شفافيت تضمين، د لګښتونو کچه راټيټه او رهبری ته به دقيق، تازه او تحليلي معلومات پر وخت وړاندې شي.

## مديريت کارکنان رياست صحت‌عامه خوست، از طريق رياست عمومی امور کارکنان وزارت صحت‌عامه، به سيستم مرکزی ديتابيس وصل گرديد

اين اقدام از طرف آمريت ديتابيس رياست عمومی امورکارکنان به هدف توسعه روند ديجيتال‌سازی اجرا گرديد، که به اساس آن، ارزيابی و تثبيت تشکيل، تعيينات و اسناد مربوط رياست يادشده مطابق معيارهای سيستم مرکزی صورت می گيرد.

همچنان، به کارمندان مديريت کارکنان رياست صحت‌عامه خوست، آموزش عملی استفاده از سيستم ديتابيس داده شد تا تعيينات، انفکاک، استعفاها و ساير تغييرات اداری را به گونه ديجيتالی ثبت و با مرکز شريک نمايند.

قابل تذکر است که، با تطبيق اين سيستم، امور اداری سرعت می‌گيرد، شفافيت تضمين می‌شود، مصارف کاهش می‌يابد و معلومات دقيق، تازه و تحليل به موقع در اختيار رهبری قرار می گيرد.

## The Ministry of Public Health's General Directorate of Human Resources has linked the Human Resources Management Department of the Khost Provincial Public Health Directorate to the central database system.

This step was taken by the Database Directorate of the General Directorate of Human Resources to advance digitalization, enabling the review and verification of staffing structures, appointments, and related documents in line with central system standards.

Relevant personnel of the Human Resources Management of the Khost Provincial Public Health Directorate received practical training on the database system, enabling them to digitally record and share staff appointments, dismissals, resignations, and other administrative changes with the central office.

With the implementation of this system, administrative processes will be faster, transparency will improve, costs will be reduced, and leadership will receive timely and accurate analytical information.




## د یونیسف اداري په مالي ملاتړ، د آدا مؤسسې له لوري د اوتریچ پروګرام د پیاوړتیا په موخه بغلان ولایت کې 16 عرادې موټرسایکلونه وویشل شول

## عراده موترسایکل، از سوی مؤسسه آدا با 16 حمایت مالی اداره یونیسف، به منظور تقویت برنامه اوتریچ، در ولایت بغلان، توزیع گردید

په همدې تړاو جوړه شوې غونډه کې د کتلوي معافیت مسؤل ډاکټر فیصل احمدزي، د آدا مؤسسې مسؤل ډاکټر شمس الله منګل، د یونیسف استازي ډاکټر شفیق الله انوري، د روغتیا نړیوال پروګرام مسؤل ډاکټر خداد مرادي او د کتلوي معافیت یو شمېر نور مسؤلینو ګډون کړی و.

ګډونوالو د دغه نوښت ارزښت وستایه او ویې ویل، دا ډول ملاتړ به د واکسیناسیون خدمتونو د پراختیا او لرې پرتو سیمو ته د باکیفیته روغتیايي خدمتونو په رسولو کې مهم او اغېزناک رول ولوبوي.

در محفلی که به همین مناسبت برگزار شد، داکتر فیصل احمدزی مسؤول معافیت کتلوی، داکتر شمس‌الله منگل مسؤول مؤسسه آدا، داکتر شفیق‌الله انوری نماینده یونیسف، داکتر خداد مرادی مسؤول برنامه صحی جهان و سایر مسوولان معافیت کتلوی اشتراک داشتند.

اشتراک‌کننده گان اهمیت این ابتکار را ستوده و تأکید نمودند که چنین حمایت‌ها نقش مؤثری در گسترش خدمات واکسیناسیون و رسانیدن خدمات صحی با کیفیت به مناطق دوردست خواهد داشت.

## With financial support from UNICEF, AADA distributed 16 motorcycles in Baghlan Province to strengthen the outreach program.

A ceremony was held on this occasion, attended by the Head of the Expanded Program on Immunization (EPI), Dr. Faisal Ahmadzai; the Head of AADA, Dr. Shamsullah Mangal; the UNICEF representative, Dr. Shafiqullah Anwari; the Head of the World Health Program, Dr. Khudad Moradi; and several other EPI officials. Participants praised the initiative, stating that such support will play a vital role in expanding vaccination services and ensuring the delivery of quality healthcare to remote and hard-to-reach areas.











## د ۱.۱.۱ د عامي روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د نورستان والي سره ناسته ترسره کړه

په دې ناسته کې د نورستان والي قاري زين العابدين د ياد ولايت د روغتيايي برخې اړوند معلومات وړاندې او هم يې د روغتيايي خدماتو ښه والي په موخه يو شمېر وړانديزونه د حل په موخه ښاغلي وزير سره شريک کړل.

دغه راز، د نورستان والي د دې ولايت په مرکز کې د جوړېدونکي 30 بستريز روغتون د تعميراتي چارو په اړه معلومات وړاندې کړل، چې رغنيزې چارې يې تقريباً بشپړېدونکي دي.

د عامي روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په ياده ناسته کې د شريک شويو ستونزو د حل سربېره ډاډ ځرګند کړ، چې نورستان ولايت کې به د عمومي روغتونونو (GH) چارې هم ژر پيل شي

## محترم مولوی نورجلال جلالی وزیرصحت‌عامه ۱.۱.۱ در نشستی با والی نورستان در دفتر کارش دیدار کرد

در این نشست، قاری زین‌العابدین، والی نورستان، معلوماتی را در مورد وضعیت صحی این ولایت ارائه نمود و همچنان پیشنهاداتی را نیز برای بهبود خدمات صحی با محترم وزیرصحت‌عامه شریک ساخت.

همچنان، والی نورستان در باره کارهای ساختمانی شفاخانه 30 بستر در مرکز این ولایت معلومات داد که کارهای ساختمانی آن تقریباً به پایان رسیده است.

محترم مولوی نور جلال جلالی، وزیر صحت‌عامه، ضمن اطمینان از رسیده گی به مشکلات مطرح‌شده، وعده داد که به زودی کارهای شفاخانه‌های عمومی(GH) در این ولایت نیز آغاز خواهد شد

## In his office, the Minister of Public Health of the Islamic Emirate of Afghanistan, Mawlawi Noor Jalal Jalali, met with the Governor of Nuristan.

During the meeting, Nuristan Governor Qari Zain-Ul-Abideen shared updates on the province's health sector and presented proposals to improve healthcare services.

He also briefed the Minister on the construction of a 30-bed hospital in the provincial center, noting that the project is nearing completion.

His Excellency the Minister assured that the identified challenges will be addressed and that the operations of General Hospitals (GHs) in the province will begin soon.





## د عامې روغتيا وزارت د څارنې او پلټنې لوی رياست له لوري، خصوصي روغتيايي سکتور سره د نظارت د پايلو شريکولو ناسته ترسره شوه

په دې ناسته کې د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، د ،روغتيايي خدماتو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني مرکزي رئيسانو او د خصوصي روغتيايي سکتور استازو ګډون کړی و.
د عامې روغتيا ښاغلي وزير، خصوصي سکتور د روغتيا وزارت مهم مټ وباله او ټينګار يې وکړ، چې د دې سکتور خدمتونه بايد په همغږۍ او معياري بڼه وړاندې شي.
ښاغلي وزير زياته کړه، عامې روغتيا وزارت د خصوصي روغتيايي سکتور له هڅو او فعاليتونو مننه کوي او د خصوصي روغتيايي سکتور وده کولای شيډيرى هېوادوال چې بهرنيو هېوادونو ته د درملنې په موخه ځي، مخنيوی وکړي.
مولوي نور جلال جلالي، له خصوصي سکتور څخه غوښتنه وکړه، چې د پرمختللو طبي تجهيزاتو د واردولو، د روغتيايي خدمتونو د کيفيت لوړولو، له سوداګرۍ څخه د طبابت لرې ساتلو او د کورنيو توليداتو د کارونې له لارې خپلو هېوادوالو ته لا ښه او معياري روغتيايي خدمتونه وړاندې کړي.
بلخوا، د روغتيايي خدماتو د وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني هيله څرګنده کړه، چې د خصوصي روغتيايي سکتور مسئولين دې د عامې روغتيا وزارت له لوري د خصوصي روغتيايي سکتور د نظارت د پايلو په اړه وړاندې شوې موندنې او معلومات د يو لارښود په توګه له ځان سره وساتي او د روغتيايي خدمتونو د ښه والي لپاره ورڅخه ګټه پورته کړي.
د خصوصي روغتيايي سکتور رئيس ډاکتر احمد خندان ووېل، چې خصوصي روغتيايي سکتور بايد معياري او د ښو خدماتو وړاندې کولو جوګه او د خلکو رضايت تر لاسه کړي.
همدارنګه، د عامې روغتيا وزارت د عمومي نظارت او ارزونې رئيس ډاکتر عنايت‌الله عنايت، د يوې پريزنټېشن له لارې، په تېرو شپږو مياشتو کې له خصوصي روغتيايي مرکزونو څخه د ګډ نظارت راپور له ګډونوالو سره شريک کړ.
په پای کې د خصوصي روغتيايي سکتور په استازيتوب ډاکتر عبيدالله مجددي د دې سکتور وړانديزونه او ستونزې د عامې روغتيا وزارت له رهبرۍ سره شريکې کړې، چې د وزارت له لوري د همکارۍ او د ستونزو د حل ژمنه ورسره وشوه.

## نشست شریک‌سازی نتایج نظارت با سکتور صحی خصوصی، از طرف ریاست عمومی نظارت و بررسی وزارت صحت‌عامه، برگزار گردید

در این نشست محترم مولوی نور جلال جلالی وزیرصحت‌عامه، محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی، رئیسان مرکزی این وزارت و نماینده گان سکتور صحی خصوصی اشتراک داشتند.
محترم مولوی نورجلال جلالی، وزیر صحت‌عامه، سکتور خصوصی را بازوی مهم این وزارت دانسته تأکید کرد:« که خدمات صحی این سکتور باید به‌گونهٔ هماهنگ و معیاری ارائه شود. وی افزود که این وزارت از تلاش‌های سکتور صحی خصوصی قدردانی می‌کند.
همچنان، محترم وزیر صحت‌عامه گفت: که رشد سکتور صحی خصوصی می‌تواند از رفتن مردم به خارج از کشور برای تداوی جلوگیری کند. وی همچنان تاکید کرد که این سکتور می‌تواند با وارد نمودن تجهیزات طبی پیشرفته، ارتقاء کیفیت خدمات صحی، دور نگاه داشتن طبابت از تجارت و استفاده از تولیدات داخلی خدمات صحی با کیفیت و بهتر را به هموطنان ما ارائه کند.
از سوی‌هم، محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی، در این نشست از مسوولان سکتور صحی خصوصی خواست، تا یافته‌ها و معلومات ارائه‌شده در رابطه به نتایج نظارت وزارت صحت عامه از سکتور صحی خصوصی را به عنوان یک راهنما با خود داشته باشند و در راستای بهبود خدمات صحی از آن استفاده نمایند.
علاوه بر آن در ادامه این نشست، داکتر احمد خندان رئیس سکتور صحی خصوصی، وزارت صحت‌عامه گفت: سکتور صحی خصوصی باید معیاری گردد، تا رضایت مردم حاصل شده و این ریاست از ارایه خدمات صحی معیاری این سکتور برای مردم نیز حمایت می‌کند.
در ادامه این نشست، داکتر عنایت‌الله عنایت، رئیس عمومی نظارت و بررسی وزارت صحت‌عامه، در یک پرزنتیشن، گزارش نظارت مشترک از مراکز صحی خصوصی را در شش ماه گذشته نیز به اشتراک کننده گان ارائه کرد.
همچنان، در اخیر این نشست داکتر عبیدالله مجددی به نماینده‌گی از سکتور صحی خصوصی، پیشنهادها و چالش‌های این سکتور را با رهبری وزارت صحت‌عامه شریک نمود که از سوی رهبری وعده همکاری و رسیده گی به مشکلات آنان داده شد.





## د ۱.۱.۱ د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د خوړو نړیوال پروګرام له عمومي رئیس، ښاغلي جان ایلیف او مل پلاوي سره لیدنه وکړه

په دې لیدنه کې د عامه تغذیې خدماتو د پراختیا او پیاوړتیا، د خوړو نړیوال پروګرام د روانو فعالیتونو او مرستو، د عامه تغذیې پروګرامونو د لا ښه والي او اغېزمنتیا، د راتلونکو پلانونو او همکاریو څرنګوالي او یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه هر اړخیز بحث او خبرې وشوې.

د عامې روغتیا وزیر د خوړو نړیوال پروګرام د عمومي رئیس او مل پلاوي هرکلی وکړ او ویې ویل، چې د عامه تغذیې خدماتو پراختیا د هېواد له مهمو روغتیایي اړتیاوو څخه ده او په دې برخه کې باید مرستې لا منظمې، دوامداره او د خلکو د واقعي اړتیاوو پر بنسټ تنظیم شي.

ښاغلي وزیر زیاته کړه، عامې روغتیا وزارت له نړیوالو مرستندویه بنسټونو سره د همغږۍ او ګډو همکاریو پراختیا ته ژمن دی، څو وکولای شي د روغتیا په ټولو برخو کې خلکو ته باکیفیته او اغېزمن خدمات وړاندې کړي.

بل لور، د خوړو نړیوال پروګرام عمومي رئیس د عامې روغتیا وزارت له رهبرۍ څخه د مننې ترڅنګ د خپلو مرستو او فعالیتونو په اړه معلومات وړاندې کړل او زیاته یې کړه، چې د کونړ ولایت له زلزله ځپلو او بیرته راستنېدونکو کډوالو سره د مرستو او همکارۍ پلان لري. همداراز، نوموړي د تغذیې برخه کې د خپلو مرستو د دوام او پراختیا ډاډ ورکړ.

## محترم مولوی نور جلال جلالی وزیر صحت‌عامه ۱.۱.۱، با محترم جان ایلیف رئیس عمومی برنامه جهانی غذا و هیأت همراهش در دفتر کاری‌اش دیدار کرد

در این دیدار، در مورد توسعه و تقویت خدمات تغذیه عمومی، فعالیت‌ها و کمک‌های جاری برنامه جهانی غذا، بهبود و مؤثریت برنامه‌های تغذیه عمومی، نحوه همکاری‌های آینده و سایر
موضوعات مرتبط بحث همه‌جانبه صورت گرفت.

محترم وزیر صحت‌عامه، از رئیس عمومی برنامه جهانی غذا و هیأت همراهش استقبال نموده و گفت، که توسعه خدمات تغذیه عمومی یکی از نیازهای اساسی صحی کشور است و کمک‌ها در این زمینه باید منظم، دوامدار و بر اساس نیازهای واقعی مردم
تنظیم گردد.

همچنان، محترم وزیر صحت‌عامه افزود که وزارت صحت‌عامه متعهد به گسترش هماهنگی و همکاری مشترک با نهادهای بین‌المللی همکار است تا بتواند در تمامی بخش‌های صحی، خدمات با
کیفیت و مؤثر به مردم ارائه کند.

از سوی‌هم، رئیس عمومی برنامهٔ جهانی غذا ضمن ابراز قدردانی از رهبری وزارت صحت‌عامه، در مورد کمک‌ها و فعالیت‌های این نهاد معلومات ارائه کرد و افزود که برنامه کمک‌رسانی و همکاری با زلزله‌زده گان ولایت کنر و مهاجرین عودت‌کننده را در نظر دارد. همچنان، وی از تداوم و گسترش کمک‌های این برنامه در بخش
غذیه اطمینان داد.

## The Minister of Public Health of the Islamic Emirate of Afghanistan, Mawlawi Noor Jalal Jalali, met with the Executive Director of the World Food Programme (WFP), John Aylieff, and his accompanying delegation at his office.

Talks focused on expanding and strengthening public nutrition services, reviewing WFP's ongoing assistance and programmes, improving the effectiveness of nutrition interventions, and outlining future plans and areas of cooperation.

The health minister welcomed the WFP delegation, stressing that the expansion of public nutrition services is a critical national health priority. He said assistance in this sector must be better coordinated, sustainable, and aligned with the real needs of the population.

He added that the Ministry of Public Health remains committed to strengthening coordination and joint efforts with international humanitarian partners to ensure the delivery of high-quality and effective health services nationwide.

Meanwhile, the WFP executive director thanked the ministry's leadership and briefed officials on the organisation's current operations. He said WFP plans to support earthquake-affected communities in Kunar province as well as returning migrants, and reaffirmed the agency's commitment to continuing and expanding its nutrition assistance.



## کونړ ولایت کې د خصوصي روغتیایي سکتور او د خوراکي توکو له پلورنځیو څخه نظارت ترسره شو

یاد نظارت د عامې روغتیا ریاست د څارنې او ارزونې مسؤلینو له لوري د دې ولایت په مرکز او ولسوالیو کې ترسره شوه، چې پایله کې یې 760 کیلوګرامه له نېټې تېر درمل او خوراکي توکي راټول او د له منځه وړلو په موخه مرکزي ګودام ته ولیږدول شول

## از سکتور صحی خصوصی و فروشگاه‌های مواد خوراکی در ولایت کنر نظارت صورت گرفت

این نظارت از سوی مسئولان نظارت و بررسی ریاست صحت عامه در مرکز و ولسوالی‌های این ولایت صورت گرفت، که در نتیجهٔ آن، مقدار 760 کیلوگرام ادویه و مواد خوراکی تاریخ‌گذشته جمع‌آوری گردیده و به منظور از بین بردن، به گدام مرکزی انتقال داده شد

## Inspection Conducted at the Private Health Sector and Food Outlets in Kunar Province

This monitoring was conducted by the inspection and monitoring officials of the Public Health Directorate in the provincial center and districts of the province. As a result, 760 kilograms of expired medicines and food items were collected and transferred to the central warehouse for destruction.






## د عامې روغتیا وزارت د داخلي تفتیش رئیس، مولوي محمد سلیم حقاني او مل تخنیکي ټیم نیمروز ته د سفر په ترڅ کې د یاد ولایت له والي الحاج مولوي عبدالمنان محمود سره لیدنه ترسره کړه

## مولوی محمد سلیم حقانی رئیس تفتیش داخلی وزارت صحت‌عامه، همراه با تیم تخنیکی در جریان سفرش به ولایت نیمروز، با الحاج مولوی عبدالمنان محمود والی این ولایت، دیدار کرد

په دې لیدنه کې، چې د نیمروز د عامې روغتیا رئیس، ملا عبدالرحمن عبدالله هم شتون درلود، د روغتیایي خدماتو ښه والي او شته ستونزو د حل په اړه خبرې وشوې؛ د نیمروز والي الحاج مولوي عبدالمنان محمود یاد پلاوي ته د هرکلي او ښه راغلاست ویلو ترڅنګ ژمنه وکړه، چې ولایتي اداره به له مرکزي اداري سره په ګډه د روغتیا برخې پیاوړتیا لپاره هلې ځلې کوي او زیاته یې کړه، د عامې روغتیا وزارت مسؤلینو دا ډول سفرونه د ستونزو د حل او اسانتیاوو رامنځته کېدو لپاره مهم دي.

دغه راز، د عامې روغتیا وزارت د داخلي تفتیش رئیس د نیمروز د والي له همکارۍ څخه منته وکړه او ویې ویل، د روغتیایي خدماتو ښه والي په موخه به هر راز ستونزې په ګډه حلوي او هڅه کوي چې نیمروز ولایت وضعیت ته په کتو روغتیا برخه کې د پام وړ بدلونونه راولي؛ څو خلکو ته لازمي اسانتیاوې رامنځته شي.

د یادونې وړ ده، چې یاد پلاوي د نیمروز د عامې روغتیا ریاست څخه هم لیدنه ترسره کړه، شته ستونزې یې په نښه او د حل په موخه یې لازمي سپارښتنې ترسره کړې.

در این دیدار که ملا عبدالرحمن عبدالله رئیس صحت عامه ولایت نیمروز، نیز حضور داشت، در مورد بهبود خدمات صحی و حل مشکلات موجود بحث و تبادل نظر صورت گرفت. الحاج مولوی عبدالمنان محمود والی نیمروز، ، ضمن استقبال و خوش‌آمدیدگویی به این هیأت، تعهد سپرد که ادارهٔ ولایتی در هماهنگی با ادارهٔ مرکزی برای تقویت سکتور صحت تلاش خواهد کرد و افزود که چنین سفرهای مسئولان وزارت صحت عامه برای حل مشکلات و فراهم‌سازی تسهیلات، از اهمیت ویژه برخوردار است.

همچنان، رئیس تفتیش داخلی وزارت صحت‌عامه از همکاری والی نیمروز ابراز قدردانی نموده، اظهار داشت که تمام چالش‌ها را به گونه مشترک حل خواهند کرد و تلاش می‌نمایند تا با درنظر داشت وضعیت این ولایت، تغییرات مثبتی در بخش صحت ایجاد شود تا سهولت‌های لازم برای مردم فراهم گردد.

قابل یادآوری است، که هیأت یادشده از ریاست صحت‌عامه نیمروز نیز دیدار نموده، مشکلات موجود را شناسایی و جهت حل آن‌ها با مسوولان مربوطه شریک ساختند، تا کیفیت خدمات صحی بهبود یابد.

## The Director of Internal Audit of the Ministry of Public Health, Mawlawi Mohammad Saleem Haqqani, paid visit to Nimroz Province, along with his technical team, and held talks with Governor Al-Hajj Mawlawi Abdul Manan Mahmood.

Al-Hajj Mawlawi Abdul Manan Mahmood, welcomed the delegation, which included the Director of Public Health of Nimroz, Mawlawi Abdul Rahman Abdullah, and held discussions on improving health services and addressing existing challenges. He pledged full cooperation with the central authorities and emphasized that such visits by Ministry of Public Health officials are vital for resolving problems and enhancing facilities.

Haqqani said the ministry would work jointly with Nimroz provincial officials to overcome challenges and strengthen healthcare services, taking the province's specific circumstances into consideration to ensure essential facilities reach the people.

The audit director and his technical team also inspected the Nimroz Directorate of Public Health, directing officials to deliver required services without delay.





## غور ولایت کې د روغتیايي مرکزونو د بیا رغونې 13 پروژې او 22 د اوبو رسونې سرچینو د ترمیم چارې په بریالیتوب سره بشپړې شوې

د دغه ولایت د الفاروق، ساغر، پسابند و لعل او سرجنګل ولسوالیو کې 11 روغتیايي مرکزونه له بشپړې بیارغونې وروسته یې بېرته خپل فعالیتونه پیل کړل.

په دې بیارغونه کې د روغتیايي کتنځایونه، نسایي ـ ولادي برخې، د واکسینومرکزونه، د اوبو رسولو سیستمونه، طبي وسایل او نورې اړینې برخې شامل وې. همداراز، د اکشن اید خیریه مؤسسې له لورې 22 د اوبو رسونې سرچینې ترمیم شوې او دوه نور روغتیايي مرکزونه د ورلډ ویژن مؤسسې له لورې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

د یادو پروژو ټولیز لګښت 23 میلیونه او 800 زره افغانۍ ته رسېږي، چې خلکو ته به د باکیفیته روغتیايي خدمتونو او سالم چاپېریال د لاسرسي کچه لوړه او د زرګونو اوسېدونکو لپاره به د خدمتونو د وړاندې کولو بشپړچمتووالی ولري.

د غورعامې روغتیا رئیس، مولوي عبدالواحد حماس، د یادو پروژو بشپړېدل د روغتیايي خدمتونو د ښه‌والي په ځانګړي ډول په لرو پرتو سیمو کې یو مهم ګام وباله او د اړوندو بنسټونو له همکارۍ یې مننه وکړه.

نوموړي همداراز د روغتیايي خدمتونو د کیفیت د ساتنې او لا پیاوړتیا په موخه د دوامدار نظارت او تخنیکي ملاتړ پر دوام ټینګار وکړ.

## پروژه بازسازی مراکز صحی و ترمیم 22 منبع آبی در 13 ولایت غور با موفقیت تکمیل شد

در ولایت غور، 11 مرکز صحی در ولسوالی‌های الفاروق، ساغر، پسابند و لعل و سرجنگل پس از بازسازی کامل فعالیت خود را از سر گرفتند. این بازسازی شامل ترمیم بخش‌های معاینه، نسایي-ولادی، مراکز واکسیناسیون، سیستم‌های آبرسانی، تجهیزات طبی و سایر نیازمندی‌های ضروری بود. همچنان 22 منبع آبی توسط مؤسسه خیریه اکشن‌اید ترمیم گردید و دو مرکز صحی دیگر نیز توسط موسسه ورلد ویژن تکمیل شد.

هزینه مجموعی این پروژه‌ها به 23 میلیون و 800 هزار افغانی رسید. این پروژه‌ها دسترسی مردم به خدمات صحی با کیفیت و محیط سالم را بهبود بخشیده و مراکز صحی اکنون آماده‌گی کامل برای ارائه خدمات به هزاران نفر از ساکنان ولسوالی‌های مربوطه را دارند.

مولوی عبدالواحد حماس، رئیس صحت عامه غور، تکمیل این پروژه‌ها را گامی مهم در بهبود خدمات صحی به‌ویژه در مناطق دوردست عنوان نموده و از همکاری مؤسسات کمک‌کننده قدردانی کرد.

وی همچنان بر ادامه نظارت دوام‌دار و پشتیبانی تخنیکی جهت حفظ و ارتقاء کیفیت خدمات صحی تأکید کرد







